مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۹/۱۱/۰۱

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## پنځلسمه برخه

### د ماشومي تر مخې، د هغې د پلار وژنه

د دې ماشومې اوښکو ته ځوک ځواب ویلی شي. چې ولې یې ودانه دنیا ور ونړوله. ولې یې بې پلاره کړه. ولې یې د هغه سترګو وړاندې ور وواژه.

بچې! مونږ وبخښه، مونږ بې وجدانه انسانان یو. د دې وطن خلک د جهالت په وروستی پوله ولاړ دي.

انسانه! انسانیت پاره پاره

جان آغا بهار




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**«یو حیوان په ټول عالم کې سری نه شو**
**دا انسان دی چې پــه خـپـلـه ځناور شي»**

(استاد پسرلی)

د تاوتریخوالي ډولونو ته په کتو سره یې که هر ډول ته وکتل شي او وڅېړل شي؛ یو تر بل بدتره او پایلي یې ورانونکي دي، په تېره بیا له کوچنیانو سره تاوتریخوالي داسي تاوتریخوالی دی چې پر هغوی باندې ژور رواني منفي تاثیرات پر ځای پرېږدي.

پرون د میډیا تر ستوني داسي راووتل چې په یوې تازه پېښه کې په کندهار کې د یوې کوچنۍ جلی تر سترګو وړاندې د هغې پلار وژل شوی دی. د ماشوم ترمخې، د پلار وژنه د تاوتریخوالی اوج او وحشت دی.

زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی روان دی او بڼه په کش کې روان دی. د ۲۰۱۹ کال په مارچ کې یې په نره توره؟ مهسا وتښتوله، وې وژله او مری یې چیړې ورته وغورځاوه؛ خلکو ژړاوې او ګیلي کولي چې ماشوم خو څوک نه وژني، قاتلینو ولي داسي وکړل، پایله یې دا شوه چې قاتلین کم سنه دي او...

اوس یې ماشوم پرېښود مشر (پلار) یې ورته ووژاه او د مړه پلار د ماشوم ټول عمر یې په زهرو ولاړه، اوس به خلک او چاروکي څه نوم پرې ږدي؟



**«که هر څو یې سازومه نه سازېږي**
**پـښـتـانــه دي د کـړو کـاڼـو دیـوال»**

(خوشال ختک)

**که هر څو یې ورته لیکم نه یې لولي**
**وطنوال دي هم ړانده هم بې غوږونو**

(آصف بهاند)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د یوه واړه کوچني تر سترګو وړاندي د هغه قهرمان، د هغه پلار په ډزو وژل، ویني يي تویول او ژوند ورنه اخستل؛ په هیڅ قانون او په هیڅ کلتور کي نه شته او په هیڅ ډول توجیه کېدای نه شي، خو زموږ په هېواد کي دا کار پرون تر سره شو، یا به د ثواب په پار شوی وي یا به د جنت د ویزې په خاطر او یا هم...

که د دې شخص وړونکي تعلیم کړی وای، د تاوتریخوالي په چاپېریال کي نه وای لوی شوي، د کورنی، ښونځي او ټولني له لوري، په درسونو کي د انسان ارزښت وربښودل شوی وای او عاطفه ورلېږدول شوې وای، هیڅکله به يي دا کار نه وای تر سره کړی.

په میډیا کي يي د خبر او عکسونو په خپرېدو سره لکه تل رنګارګ نظریات ورکړل شول چي یو څو غبرګونونه يي دلته را اخلم:

ښاغلي نعمان دوست داسي ولیکل:

«د دې پرښتي ژبه د تور ابلیس وحشت ګونګه کړې،

دا نشي غږېدلی،

د وحشتونو په لمبو کي زما د سوزېدلي وطن کوچنی ښاپیرۍ!

ستا خاموشي مي سر کي داسي شور جوړ کړ چي د انفجار خطر يي محسوسوم.

ګلې!

خوږې نانځکې!

ستا له ترهېدلو سترګو ځار شم!

همداسي خاموشه پاتي شه؛ دلته د انسانیت جنازه وختي پورته شوې،

دلته د اشرف المخلوقات په لېدلو وحشي ځناور سر وخوځوي او وواييي:

ښه ده چي انسانان نه یو.

ګلې!

د وحشت دا ستره خاطره دې د زړه په کوچنۍ هدیره کي ښخه کړه.

دلته ستا د ګنو همزولو په کوچنیو زړونو کي د دغه شان لحظو یادونه ښخ دي.

نو:

"ربه ربه زما ربه
لیونی شوم په فکرونو
څنګه خور قهر او غضب کړم
په صحرا او سرو ګلونو"

خبر دی چي کندهار کي ځناورو وسلوالو د دې ماشومي په مخکي يي پلار ور ته ویشتلی.»

دغه راز ښاغلي اسماعیل یون خپل نظر داسي څرګند کړی دی:

«د چا په زمانه کي؟
نه د شداد زمانه ده نه د نمرود ، نه د فرعون زمانه ده نه د یزید، خو کوم وحشت او دهشت چي روان دی دا د ولسواکی او اسلامي جمهوریت په زمانه کي دی، دا د ملاواکی او اسلامي امارت په زمانه کي دی. یو پلو د نړۍ د مدنیت توغ رپیږي او بله خوا د اسلامي خلافت بیرغ رپاند دی. یوه خوا د نړۍ د دویم نمبر مفکر د توصیف باران


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوربېږي او بله خوا د اسلامي نړۍ د دویم نمبر ملا ستاینې کیږي، خو د شعارونو په دې ګرم تنور کې بیا زما د وطن تنکي نرګس ورېتېږي.

د نړۍ پر مخ به داسې څوک وي چې څو شیبې دې ترهېدلي تصویر ته په مسلسل ډول وګوري؟ څومره ترهېدلي هوسۍ ګوتې ده، هغه وېرېدلي چې د خپل پلار تصویر ته نه ګوري، هغه وایي چې اوس به بل ډز کیږي، اوس به یې د پلار له سینې بله ګولۍ وځي، اوس به یو ځل بیا دا مه مه کوي، زړه به یې درزېږي، شونډې به یې رپېږي او سلګۍ به یې بندېږي.

دا دی زما د وطن د ژوند تصویر. پلار دې لاړ لوري، خو که څوک غواړي ستا د پلار د ژوند د وروستیو شېبو او سلګیو تصویر وګوري، نو ستا پر زړه دې لاس کیږدي، ستا سترګې دې ببرته کړي، هلته به هر څه وګوري. هو لوري! کله چې دې د شپې نا وخته مور او نیا غېږ کې و نیولې، د پلار د ژوند وروستۍ شیبې دې ورته ټکي په ټکي بیان کړه او همدا داستان بیا هغې نړۍ کې د خدای حضور ته هم په همدې بڼه تېر کړه.

ای د ایمان او وجدان خاوندانو! هغه ملي بیرغ ته څو ګوری کنه چې د شهید مخې ته هسک دی، ای د دې وطن یو ارماني شهیده پر مخه دې ژېړې ګلونه...»

جان اغا بهار داسې لیکلي دي:

«اخ؛

یتیمې بچې!

مه را ګوره، داسې مه راګوره. ستا معصومانه او مظلومانه لیدل، له ما واخله، تر د دې وطن باچا پورې ټولو ته لوی شرم دی. څه بې وجدانه یو، ان د وجدان په عذاب هم نه اخته کیږو.

بچې!

ستا پلار د دې وطن د ټولو انسانانو قاتل و، فرعون و، کارون و، نمرود و، چنګیز و، هټلر... ځکه یې داسې سزا ورکړه.

بچې!

ستا له سترګو لوېدلي اوښکې ولې معجزه نشوې. ستا سلګیو دې نړۍ ته ولې ټکان ورنکړ.

بچې!

ستا د سترګو پر وړاندې یې ستا د قبله ګاه له سینې څخه مرمۍ پورې ـ راوري وویستې، ان وینو یې ستا "ګلابي" غومبرې در ولړل.

بچې!

بچې!»

سره له دې چې د ټولنیزو شبکو ځینو کارنو د دې پیښې د عکسونو د نه خپرېدو هیله کړې وه، خو استاد محمد تنها بیا داسې لیکلي دي:

«که څه هم د معصومې ماشومې او مقتول پلار انځور دردوونکی دی، خو پرېږده چې همدا دردونه له ترېګني نیولې بیا تر دینې ټېکې پورې د هر قتل نجس جواز پر وړاندې د افغان انسان په زړه کې څړیکه، کرکه او بغاوت پیدا کړي.
- ځینې سخت دردونه د اوږدمهاله درملنې لپاره ښه نسخه ثابتېدلای شي. 😭😭😭
#دکندهاروحشت»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ




**زما د وطن له نوي نسل سره داسي کیږي،**
**چا ته ووایو،چا ته عرض وکړو،**
**خدای خویي خپله ویني او...**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ